# یقینا چې الله جل جلاله تاسو له دې څخه منع کوي چې په خپلو پلرونو قسم وخورئ

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «یقینا چې الله جل جلاله تاسو له دې څخه منع کوي چې په خپلو پلرونو قسم وخورئ» عمر رضي الله عنه وويل: په الله جل جلاله مې دې قسم وي چې ما (دا ډول)قسم ندی خوړلی کله مې چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي، نه په قصدي توګه او نه دا چې د بل چا څخه حکایت وکړم.
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې الله تعالی په پلرونو له قسم خوړلو څخه منع فرمایلي ده، نو څوک چې قسم کول غواړي یوازې په الله جل جلاله دې قسم وکړي، او په بل چا دې قسم نه کوي. بیا عمر بن خطاب رضي الله عنه یادونه وکړه چې هغه په (غیر الله) قسم ندی کړی، له کومې ورځې نه یې چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې منع یې ترې کړې ده، نه یې په قصدي توګه دا کار کړی او نه یې د بل چا په اړه حکایت کړی دی چې له الله پرته یې په بل څه قسم کړی وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2945